# د ګلتيانو په نوم د پولوس رسول خط

## پېژندګلو

د ګلتيانو په خط کښې پولوس رسول په دې خبره ډېر زور راوړے دے چې خُدائ پاک سره راضی کېدل صرف د هغهٔ په فضل او د حضرت عيسیٰ مسيح د مرګ په وسيلې سره کېدے شی. دروغژنو اُستاذانو ګلتيان په دې خبره مجبور کړل چې خپل ځانونه سنت کړی. او د هغې نتيجه دا وه چې په جماعت کښې د وروڼو په مينځ کښې بې‌اتفاقی جوړه شوه. پولوس رسول مختلف دليلونه پېش کوی چې هغوئ ولې د زيری بنيادی تعليم ته واپس را واوړی. پولوس رسول په دې کِتاب کښې دا خبره هم په ګوته کوی چې د حضرت عيسیٰ مسيح اِنجيل د انسان نه نهٔ خو صرف د خُدائ پاک د طرفه نازل شوے دے. پولوس رسول په خپله د دې خبرې ژوندے مثال دے. په حضرت عيسیٰ د هغهٔ ايمان او رسالت د کوم انسان د خوا نه نهٔ وو. د هغهٔ بدلون نيغ په نېغه د حضرت عيسیٰ مسيح د رويا په ذريعه وشو. هغه دا تعليم ورکوی کهٔ چرې د ايمان دپاره د سنتولو ضرورت وی او يا د شريعت د پوره کولو ضرورت وی، نو د دې دا مطلب شو چې مونږ د فضل او خلاصون نه واپس د ټول شريعت او د هغهٔ لعنت لاندې بيا غلامان شُو، ځکه چې د شريعت صحيح پوره کېدل د يو انسان دپاره ناممکنه خبره ده. پولوس رسول د دې په حقله هم تعليم ورکوی چې روح القُدس څنګه مسيحی ژوندون کښې د طاقت او هدايت ذريعه ده. روح القُدس په ايماندار کښې مينه او ايمان پېدا کوی، او په آخر کښې هغه مونږ ته دا رايادوی چې په مسيحی ژوند کښې د حضرت عيسیٰ مسيح رضا کېدل لويه خوشحالی ده. او په دغه نوی ژوند کښې مونږ له په کار دی چې په خپله خوښه د حضرت عيسیٰ مسيح د خاطره هر قسم تکليفونه وزغمو. د حفظ کولو دپاره ۲:۲۰ آيت "زما زوړ ژوند د مسيح سره په سولئ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شوے دے. زۀ د دې نه وروستو نور ژوندے نۀ یم بلکې مسیح په ما کښې ژوندے
دے.“



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## سلام

١ ﴿١﴾ د پولوس رسول د طرف نه، چې نهٔ هغه انسانانو مقرر کړو، او نهٔ يې د بل
چا نه رسالت حاصل کړو، بلکې عيسىٰ مسيح او خُدائ پلار په خپله مقرر کړو،
چا چې مسيح د مړو نه بيا ژوندے کړو. ﴿٢﴾ زهٔ او ما سره موجود ايمانداران
ورونړه د ګلتيانو ټولو جماعتونو ته سلام وايو، ﴿٣﴾ زمونږ د خُدائ پلار او د مالِک
عيسىٰ مسيح د طرفه دې په تاسو فضل او سلامتى وى. ﴿٤﴾ هغه عيسىٰ چا چې
زمونږ د ګناهونو دپاره خپل ځان قربان کړو، د دې دپاره چې زمونږ د خُدائ پلار
د رضا په مطابق د دې موجوده بدکارې زمانې نه مونږ بچ کړى. ﴿٥﴾ د خُدائ
پاک جلال دې د تل دپاره وى. آمين.

## هم يو زيرے دے بل نشته

﴿٦﴾ زهٔ په دې خبره حېران يم چې تاسو دومره زر د هغه چا نه مخ اړوئ چا چې
تاسو د مسيح په فضل رابللى يئ، او اوس د بل زيرى پسې ګرځئ، ﴿٧﴾ اګر چې
بل زيرے نشته. خو داسې خلق شته چې هغوئ دا غواړى چې تاسو بې لارې کړى
او د مسيح د زيرى مقصد درته بدل کړى. ﴿٨﴾ خو کهٔ مونږ په خپله يا د آسمان
يوه فرښته د هغه زيرى نه علاوه چې مونږ تاسو ته اورولے وو، بل کوم زيرے
اوروى، نو هغه دې لعنتى وى. ﴿٩﴾ زهٔ اوس هغه څهٔ تاسو ته بيا بيانوم څهٔ چې ما
درته اول بيان کړى دى، کهٔ څوک تاسو ته د در رسېدلى زيرى نه بل زيرے
اوروى نو هغه دې لعنتى وى. ﴿١٠﴾ ولې زهٔ اوس د بنى آدم د راضى کولو کوشش
کوم يا د خُدائ پاک؟ يا ولې زهٔ د خلقو د خوشحالولو پسې ګرځم؟ کهٔ چرې ما
تر اوسه پورې خلق خوشحالول نو بيا به زهٔ د مسيح غلام نهٔ وم.

## د پولوس رسول خپل رسالت ته اِشاره کول



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

﴿۱۱﴾ زما ورونړو او خوېندو، زۀ دا غواړم چې تاسو په دې پوهه شئ چې کوم
زېرے چې ما درته اورَولے دے هغه انسانی نۀ دے. ﴿۱۲﴾ ځکه چې هغه ما ته د
چا انسان په وسيله نۀ دے رارسېدلے او نۀ چا ما ته ښودلے دے، بلکې دا ما ته
د عيسىٰ مسيح د خوا نه اظهار شوے دے. ﴿۱۳﴾ نو بېشکه تاسو زما د مخکښې
ژوند په حقله کله چې يهودی وم دا اورېدلی دی چې ما به د خُدائ پاک جماعت
زورولو او د هغې د تباه کولو کوشش کولو. ﴿۱۴﴾ زۀ د يهوديانو په عقيده کښې د
خپل قوم د اکثرو همزولو نه ډېر سرګرم وم ځکه چې زۀ د خپلو مشرانو د رواياتو
ډېر زيات پابند وم. ﴿۱۵﴾ خو خُدائ پاک زۀ د پېدايښت نه مخکښې د مور په ګېډه
کښې خوښ کړم او په خپل فضل يې راوبللم، نو هغه خوشحاله وو ﴿۱۶﴾ چې خپل
زوئ په ما کښې ښکاره کړی د دې دپاره چې زۀ په غېريهوديانو کښې د هغۀ
زېرے خور کړم. نو نۀ خو ما د انسان نه صلاح واخسته ﴿۱۷﴾ او نۀ زۀ په يروشلم
کښې هغوئ ته ورغلم څوک چې زما نه مخکښې رسولان وُو، بلکې سمدستی
عربستان ته لاړم او د هغه ځائ نه وروستو دمشق ته راواپس شوم. ﴿۱۸﴾ بيا درې
کاله پس د پطروس سره د ملاقات دپاره زۀ يروشلم ته لاړم او پينځلس ورځې مې
هغۀ سره تېرې کړې. ﴿۱۹﴾ خو ما د مالِک د ورور يعقوب نه بغېر نورو رسولانو
سره ملاقات ونۀ کړو. ﴿۲۰﴾ کومې خبرې چې زۀ تاسو ته ليکم، خُدائ پاک
حاضر ناظر دے چې زۀ هيڅ دروغ نۀ وايم. ﴿۲۱﴾ د دې نه پس زۀ د شام او د
کلکيه علاقو ته لاړم. ﴿۲۲﴾ او په يهوديه کښې چې د مسيح جماعتونه دی هغوئ زۀ
تر اوسه نۀ پېژندلم. ﴿۲۳﴾ خو هغوئ صرف د هغۀ په حقله دا اورېدلی وُو، "چا به
چې مونږ وړاندې زورولو، هغه اوس د هغه ايمان زېرے په خپله ورکوی د کوم په
تباهئ پسې چې دے ګرځېدو." ﴿۲۴﴾ او هغوئ زما په وجه د خُدائ پاک ثنا ووئيله.

## نورو رسولانو پولوس رسول قبول کړو

۲ ﴿۱﴾ نو څوارلس کاله وروستو زۀ د برنباس سره بيا يروشلم ته لاړم او



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تیطوس مې هم د ځان سره بوتلو. ۲ زۀ د خُدائ پاک د الهام په مطابق هلته
لاړم. هلته بیا ما د هغوئ د مشرانو سره پټ ملاقات وکړو. د هغوئ وړاندې مې
هغه زیرے کېښودو کوم چې ما غېریهودیانو ته بیان کړے وو. ځکه چې زۀ
یریدلم هسې نه چې زما اوسنی یا پخوانی منډې تړړې بې‌فائدې شی. ۳ خو
تیطوس ځوک چې ما سره وو اګر کۀ هغه یونانی هم وو خو هغه په سنتولو
مجبوره نۀ کړے شو. ۴ ځینې دروغژن ایمانداران زمونږ په مینځ کښې د دې
دپاره شامل شوی وُو چې جاسوسی وکړی، او کومه آزادی چې مونږ ته په عیسیٰ
مسیح کښې مِلاو شوې ده هغه ختمه کړی او مونږ بیا د شریعت غلامان جوړ
کړی. ۵ خو مونږ د هغوئ تابعداری لږ ساعت له هم ونۀ کړه د دې دپاره چې د
زیری رښتینوالے په تاسو کښې همیشه قائم پاتې شی. ۶ او کوم خلق چې
مشران حسابېدل، هغه کۀ هر څنګه وُو، زما ورسره هیڅ کار نشته ځکه چې
خُدائ پاک د هیچا طرفدارے نۀ کوی، د هغه مشرانو نه زما په زیری کښې هیڅ
زیاتوالے رانۀ غلو. ۷ خو د دې قاعدې په خلاف، هغوئ ولیدل چې ما ته د
غېریهودیانو دپاره د مسیح د زیری ذمه واری حواله شوې ده، لکه څنګه چې
پطروس ته د یهودیانو دپاره د زیری ذمه واری حواله شوې وه. ۸ نو دغه شان،
څنګه چې خُدائ پاک په پطروس کښې د یهودیانو د رسالت دپاره طاقت پیدا
کړو، نو هم هغۀ د غېرو یهودیانو د رسالت دپاره ما ته هم طاقت راکړو. ۹ او
کله چې یعقوب، پطروس او یوحنا چې د جماعت ستنې وې، هغوئ د هغه فضل
نه خبر شول کوم چې ما ته راکړے شوے وو، نو هغوئ د ملګرتیا دپاره برنباس
او ما ته ښے لاس راکړو. او مونږ متفِق شو چې مونږ به غېریهودیانو ته او هغوئ
به یهودیانو ته د خِدمت دپاره لاړ شی. ۱۰ هغوئ بس دومره راته ووئیل چې
خوار غریب یاد ساته، ولې زۀ پخپله د دې کار دپاره لیواله وم.

## په اَنطاکیه کښې پولوس رسول، پطروس ورټلو

۱۱ خو کله چې پطروس اَنطاکیه ته راغلو نو ما مخامخ د هغۀ مخالفت وکړو



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې هغه په خپله ملامته وو. ⑫ کله چې هغه راغلو نو هغۀ د غېریهودیانو
ایماندارانو سره خوړل څښل، خو وروستو کله چې د یعقوب ملګری راغلۀ نو هغۀ
نور د غېریهودیانو سره خوړل څښل پرېښودل. ځکه چې هغه د هغه خلقو نه
یرېدو چا چې د غېریهودیانو سنتېدل غوښتل. ⑬ او نور یهودیان ورونړه هم د
هغۀ په مرسته په ریاکارئ کښې ورسره شامل شول تر دې چې برنباس هم د
هغوئ سره د ریاکارئ په وجه ګمراه شو. ⑭ نو کله چې ما ولیدل چې هغوئ د
زیری د رښتینوالی په مطابق په نېغه لار نۀ ځی، نو ما د ټولو په وړاندې پطروس ته
دا ووئیل چې، "کۀ څۀ هم چې تۀ یهودی یې او د غېریهودیانو په شان ژوند تېروې،
نو بیا تۀ ولې غېرقومونه د یهودیانو په شان ژوند تېرولو ته مجبوروې؟"

## یهودیان او غېریهودیان دواړه په ایمان بچ شول

⑮ مونږ پېدائشی یهودیان یُو او د غېریهودیانو په شان ګناهګاران نۀ یُو. ⑯ خو
اوس مونږ په دې پوهېږو چې څوک هم د شریعت په عملونو نه، بلکې صرف په
عیسیٰ مسیح په ایمان راوړلو صادق کیږی. او مونږ په خپله په عیسیٰ مسیح
ایمان راوړو د دې دپاره چې مونږ په مسیح په ایمان راوړلو سره صادق شُو، نه
چې د شریعت په عملونو، ځکه چې د شریعت په عملونو څوک هم صادق کېدے
نۀ شی. ⑰ خو کۀ په مسیح باندې د ایمان ساتلو په وجه هغه مونږ د خُدائ پاک
سره صادقان کړی، او کۀ په دې مونږ ګناه ګار ګڼلے شُو چې ګنې مونږ شریعت
پرېښودو، نو ولې د دې مطلب دا شو چې ګنې مسیح مونږ ته د ګناه دعوت
راکړو؟ نه هیڅکله نه. ⑱ کۀ زۀ هغه شریعت بیا آباد کړم کوم چې ما ونړولو، نو
زۀ به خپل ځان مجرم ثابت کړم. ⑲ په شرعی ژوند پوره کولو کښې زۀ مړ
شوم، خو د دې په وجه ما خُدائی ژوند حاصل کړو. ⑳ زما زوړ ژوند د مسیح
سره په سولئ شوے دے. زۀ د دې نه وروستو نور ژوندے نۀ یم بلکې مسیح په
ما کښې ژوندے دے. او زۀ چې اوس کوم ژوند تېروم نو د خُدائ پاک په زوئ
یې په ایمان راوړلو کښې تېروم چا چې ما سره مینه کړې ده او زما دپاره یې خپل



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځان قربان کړو. (٢١) زۀ د خُدائ پاک فضل نۀ رد کوم، ځکه کۀ صداقت د
شريعت په وسيله حاصليږی نو بيا خو مسيح بېمطلبه مړ شو.

## شريعت يا فضل

٣ (١) اے نادانو ګلتيانو، په تاسو چا کوډې جادو وکړو؟ ستاسو د سترګو په
وړاندې عيسیٰ مسيح په سولۍ شو او تاسو ټولو يې تماشه وکړه. (٢) زۀ ستاسو
نه صرف دا پته کول غواړم چې تاسو په شريعت په عمل کولو روحُ القُدس
ومونډلو يا مو چې څۀ واورېدل په هغې د ايمان راوړلو په وسيله؟ (٣) ولې تاسو
دومره نادانه يئ چې د روحُ القُدس په وسيله مو شروع وکړه او اوس تاسو خپل
مقصد په انسانی کوشش سر ته رسوئ څۀ؟ (٤) ولې ستاسو ټول کړاونه فضول
شُو؟ په يقين سره چې عبث نۀ شُو، ولې داسې نۀ ده څۀ؟ (٥) نو بيا ولې خُدائ
پاک تاسو ته روحُ القُدس او د معجزو کولو کار په شريعت د عمل کولو په وجه
درکړے دے او يا کۀ د مسيح د زيری اورېدلو او په هغۀ د ايمان راوړلو په وجه؟
(٦) لکه څنګه چې اِبراهيم په خُدائ پاک ايمان راوړو، او دا د هغۀ دپاره په
صداقت حساب شو. (٧) نو بيا پوهه شئ چې د چا چې په خُدائ پاک ايمان
وی، هغوئ د اِبراهيم اولاد دی. (٨) او په صحيفو کښې د مخکښې نه ليکلے
شوی وُو چې خُدائ پاک به ټول قومونه په ايمان صادق کړی، نو د اول نه يې
اِبراهيم ته دا زيرے ورکړو او وې فرمائيل چې، ”ستا په وسيله به ټولو قومونو ته
برکت ورکړم.“ (٩) نو په دې وجه چا چې ايمان راوړلو، د اِبراهيم سره يې د
خپل ايمان په وسيله برکت بياموندلو. (١٠) ځکه څوک چې د شريعت په عملونو
بهروسه کوی، هغوئ لعنتيان دی، لکه چې په صحيفو کښې فرمائی چې، ”هر هغه
څوک چې د شريعت په کِتاب کښې په ليکلے شوو ټولو خبرو عمل نۀ کوی
هغوئ ټول لعنتيان دی.“ (١١) اوس دا خبره ښکاره ده چې د شريعت په وسيله
هيڅوک هم د خُدائ پاک په وړاندې صادق کېدے نۀ شی، ځکه چې صحيفې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وائی، "څوک چې صادق وی هغه به په ایمان پائی." ⑫ بلکې د ایمان طریقه د شریعت د طریقې نه بدله ده، لکه څنګه چې په صحیفو کښې لیکلی دی چې، "څوک چې په شریعت عمل کوی هغه به د دې په سبب پائی." ⑬ مسیح مونږ په بیعه واخستو او د شریعت د لعنت نه یې آزاد کړُو څکه چې هغه زمونږ دپاره لعنتی شو، څکه چې په صحیفو کښې لیکلے شوی دی چې، "څوک چې په ونه کښې راځوړند کړے شی هغه لعنتی دے." ⑭ دا څکه وشو چې د اِبراهیم برکت د عیسیٰ مسیح په وسیله غېریهودیانو ته هم ور ورسی، او چې مونږ د ایمان په وسیله د روحُ القُدس هغه وعده حاصله کړُو د کوم چې خُدائ پاک وعده کړې وه.

## د خُدائ پاک د اِبراهیم سره وعده

⑮ زما ورونړو او خوېندو، زهٔ درته د روزمره ژوند مثال درکوم. چې د یو کس د چا سره تړون وشی، نو بیا په کښې نهٔ څهٔ زیاتېدے شی او نهٔ څهٔ منسوخ کېدے شی. ⑯ نو خُدائ پاک چې د اِبراهیم او د هغهٔ د اولاد سره کومه وعده وکړه، نو د هغهٔ مقصد دا نهٔ وو چې، "د ډېرو اولادونو سره،" بلکې د هغهٔ مقصد دا وو چې، "ستا یک یو اولاد سره،" یعنې مسیح سره. ⑰ زما مقصد دا دے، کوم شریعت چې څلور سوه دېرش کاله وروستو راغلو، دا هغه تړون نهٔ ماتوی کوم چې خُدائ پاک د پخوا نه مقرر کړے وو او نهٔ د هغهٔ وعده ماتوی. ⑱ څکه کهٔ میراث د شریعت په وسیله حاصلېږی نو بیا خو به دا د وعدې په بنیاد نهٔ دے، خو خُدائ پاک اِبراهیم ته دا د وعدې په وسیله ورکړو. ⑲ نو بیا د شریعت د راتلو نه څهٔ مقصد وو؟ شریعت د دې دپاره ورکړے شو چې د وعدې سره سره چې خلقو ته د هغوئ ګناهونه هم وربښکاره کړی، خو شریعت صرف د وعده شوی ماشوم د راتلو پورې وو. خُدائ پاک خپل شریعت د فرښتو په وسیله موسیٰ له ورکړو څوک چې د خُدائ پاک او خلقو تر مینځه مینځګړے وو. ⑳ خو د مینځګړی ضرورت په هغه وخت راځی کله چې فریقین د یو نه زیات شی،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو خُدائ پاک یو دے.

## د شریعت مقصد

٢١ نو ولې شریعت د خُدائ پاک د وعدو خلاف دے؟ نه، هیڅکله نه. ځکه چې
کۀ داسې شریعت ورکړے شوے وے چې ژوند یې ورکولو نو بیا به صداقت د
شریعت په وسیله راغلے وو. ٢٢ خو صحیفې فرمائی چې مونږ ټول د ګناه
بندیوان یُو، نو کومه د معافۍ وعده چې د عیسیٰ مسیح په ایمان کښې ده، هغه به
هغه خلقو له ورکړے شی د چا چې پرې ایمان وی. ٢٣ نو د ایمان د راتلو نه
اول، مونږ په قید کښې وُو او د شریعت د لاندې تر هغې ځارل کېدو ترڅو چې په
مونږ کښې ایمان ښکاره شی. ٢٤ په دې وجه شریعت د مسیح د راتلو پورې
زمونږ ځارونکے وو د دې دپاره چې مونږ د ایمان په وسیله صادق ثابت کړے
شُو. ٢٥ خو اوس چې ایمان راغلو نو مونږ نور د شریعت ځارلو ته محتاج نۀ
یُو، ٢٦ ځکه چې په عیسیٰ مسیح کښې د ایمان په وسیله تاسو ټول د خُدائ پاک
اولاد یئ. ٢٧ تاسو څومره چې په مسیح کښې بپتسمه شوی یئ، د مسیح جامې
مو اغوستې دی. ٢٨ په تاسو کښې نور نۀ څوک اوس یهودی او نۀ یونانی، نۀ
څوک غلام او نۀ آزاد، نۀ څوک نارینه او نۀ زنانه شته، ځکه چې تاسو ټول اوس
په عیسیٰ مسیح کښې یو شان یئ. ٢٩ او اوس چې تاسو د مسیح یئ نو تاسو د
اِبراهیم اولاد یئ، او د وعدې په مطابق وارثان یئ.

٤ ١ خو زۀ دا وایم ترڅو چې وارث نابالغه وی، اګر چې هغه د ټول جائیداد
مالِک وی، خو ترڅو چې هغه بالغ شوے نۀ وی تر هغې پورې په هغۀ او یو غلام
کښې فرق نۀ وی. ٢ پلار چې کوم وخت د هغوئ دپاره مقرر کړے دے نو تر
هغه وخته پورې به هغوئ د هغه ساتونکی تابعداری کوی. ٣ دغه شان چې مونږ
هم کله نابالغه وُو نو مونږ هم د دُنیاوی اصُولو غلامان وُو. ٤ خو کله چې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وخت پوره شو نو خُدائ پاک خپل زوئ راولېږلو چې د ښځې نه پيدا شو او د
شريعت د لاندې يې ژوند تېرولو، (۵) د دې دپاره چې هغه زمونږ فديه ورکړی او
مونږ د شريعت نه آزاد کړی، نو چې په دې سره هغه مونږ د خپل زوئ په حيث
قبول کړی. (۶) نو ځکه چې مونږ د خُدائ پاک بچی يُو نو خُدائ پاک د خپل
زوئ روح زمونږ زړونو ته راولېږلو کوم روح چې په مونږ کښې دا آواز کوی چې،
"اے ابا، پلاره." (۷) نو اوس نور تهٔ غلام نهٔ يې بلکې زوئ يې، او چې زوئ يې نو
د خُدائ پاک وارث هم يې.

## د ګلتيانو دپاره د پولوس رسول فکرمندی

(۸) پخوا چې تاسو خُدائ پاک نهٔ پېژندو نو تاسو د هغه معبودانو غلامان وئ
چې په حقيقت کښې خُدايان نهٔ وُو. (۹) خو ولې اوس تاسو خُدائ پاک
وپېژندلو، بلکې اوس خُدائ پاک تاسو وپېژندلئ، نو بيا تاسو خپلو هغه کمزورو
او بې‌فائدې اولنو دُنياوی اصُولو ته ولې راګرځئ؟ او ولې ځان بيا د هغوئ غلام
جوړول غواړئ؟ (۱۰) تاسو په ډېر غور سره خاص ورځې، مياشتې او مقرر
موسمونه او کالونه مناووئ. (۱۱) زهٔ ستاسو په حقله دا يره محسوسوم هسې نه
چې کومه خواری چې ما په تاسو کړې ده هغه عبث لاړه شی. (۱۲) زما وروڼو او
خويندو، زهٔ تاسو ته منت کوم چې خپل ځانونه زما په شان د شريعت نه آزاد
کړئ ځکه چې زهٔ هم ستاسو په شان جوړ شوے يم. تاسو ما سره کوم خراب
سلوک نهٔ دے کړے. (۱۳) تاسو ته به ياد وی کوم زيرے چې ما تاسو ته اول
اورولے وو په هغه وخت کښې زهٔ بيمار وم. (۱۴) اګر کهٔ زما بيماری تاسو په
آزمېښت کښې واچولئ، نهٔ خو تاسو زهٔ سپک وګڼلم او نهٔ مو رانه کرکه وکړه،
بلکې زما هرکلے مو لکه د خُدائ پاک د فرښتې او لکه د عيسیٰ مسيح په شان
وکړو. (۱۵) زهٔ د دې خبرې ګواهی ورکوم چې په هغه وخت کښې تاسو ما ته
دومره خوشحاله وئ کهٔ چرې دا ممکنه وه نو تاسو به د خوشحالئ نه خپلې
سترګې راويستې وې او ما له به مو راکړې وې خو اوس ستاسو هغه خوشحالی



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څۀ شوه؟ ﴿۱۶﴾ نو ولې زۀ تاسو ته د حق وئيلو په وجه اوس ستاسو دشمن شوم؟ ﴿۱۷﴾ هغوئ تاسو سره دوستانه کول غواړی خو د نېک مقصد دپاره نه، بلکې هغوئ دا غواړی چې تاسو زما نه جدا کړی د دې دپاره چې تاسو د هغوئ د دوستانې محتاجه شئ. ﴿۱۸﴾ دا ښۀ خبره ده چې په نېک کار کښې هر وخت د دوست جوړولو کوشش وکړے شی، نۀ صرف هغه وخت چې کله زۀ تاسو سره موجود يم. ﴿۱۹﴾ زما ګرانو بچو، زۀ بيا ستاسو دپاره لکه د ماشوم د پېدا کېدو په درد آخته يم، ترڅو چې تاسو د مسيح په شان شوی نۀ يئ. ﴿۲۰﴾ زما دا خواهش دے چې زۀ اوس تاسو سره موجود وے، او خپل د خبرو انداز مې بدل کړے وے ځکه چې زۀ ستاسو په حقله پرېشانه يم.

## د بی‌بی ساره او بی‌بی هاجِرې مثال

﴿۲۱﴾ تاسو خوک چې د شريعت تابعداری کول غواړئ، ما ته دا ووايئ چې ولې تاسو په هغه خبره نۀ پوهېږئ څۀ چې شريعت وائی؟ ﴿۲۲﴾ نو دا ليکلے شوی دی چې د اِبراهيم دوه زامن وُو، يو د وينځې نه او بل د آزادې ښځې نه وو. ﴿۲۳﴾ د وينځې زوئ په عام طور پېدا شو، او د آزادې ښځې زوئ د خُدائ پاک د وعدې په مطابق پېدا شو. ﴿۲۴﴾ کۀ چرې مونږ په دې مثال پوهه شُو، دا دواړه ښځې د خُدائ پاک هغه دوه لوظونه ښکاره کوی. اوله ښځه چې هاجِره نومېږی چې هغه د سينا د غرۀ په مثال ده چرته چې خلقو ته شريعت مِلاو شو او هغه يې غلامان کړل. ﴿۲۵﴾ هاجِره په عربو کښې د سينا د غرۀ په مثال ده او څوک چې د موجوده يروشلم ښار په شان ده، ځکه چې د خپلو اولادونو سره په غلامۍ کښې ژوند کوی. ﴿۲۶﴾ خو هغه بله ښځه ساره د آسمانی يروشلم په شان ده، هغه آزاده ښځه ده، او هغه زمونږ مور ده. ﴿۲۷﴾ ځکه چې په صحيفو کښې دا ليکلی دی چې، ”اے شنډې ښځې، خوشحالی وکړه، تا چې کله هم بچی نۀ دی راوړی او تا چې د ماشوم د راوړو درد نۀ دے تير کړے. نو تۀ د خوشحالۍ نه چغې ووهه، ځکه چې شنډه ښځه به د هغې ښځې نه زيات بچی راوړی څوک چې وادۀ شوې وی.“ ﴿۲۸﴾



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو ملګرو، اوس تاسو د اِسحاق په شان د خُدائ پاک د وعدې بچی يئ. ۲۹ خو
څنګه چې په هغه ورځو کښې په عام طور پېدا شوی زوئ د خُدائ پاک د روح په
قدرت سره پېدا شوی زوئ وزورولو، نو هم هغه شان خبره اوس هم ده. ۳۰ خو
صحيفې څۀ وائی چې، "وينځه او د هغې زوئ وشړئ ځکه چې د وينځې زوئ به
د آزادې ښځې د زوئ په ميراث کښې شريک نۀ وی." ۳۱ نو په دې وجه زما
ورونړو او خوېندو، مونږ او تاسو اوس د وينځې بچی نۀ يُو، بلکې د آزادې ښځې
بچی يُو.

۵ ۱ مسيح مونږ د آزاد اوسېدلو دپاره آزاد کړی يُو. نو بيا په دې آزادۍ کښې
قائم پاتې شئ، او په خپله غاړه د غلامۍ جغ بيا مۀ ږدئ.

### د ايماندارانو آزادي

۲ ما ته غوږ شئ، زۀ پولوس تاسو ته دا وايم، کۀ چرې تاسو خپل ځان ته
سنت د خلاصون ذريعه ګڼئ نو بيا تاسو ته د مسيح هيڅ فائده نشته. ۳ زۀ به
يو ځل بيا هر يو کس ته دا په تاکيد سره ووايم، کۀ څوک خپل ځان سنت کړی
نو هغه به بيا ضرور د شريعت په ټولو حکمونو پوره عمل کوی. ۴ ځکه کۀ
تاسو په شريعت د عمل کولو په وسيله خپل ځان صادق کول غواړئ، نو په دې
تاسو د مسيح سره خپل تعلق ختم کړو او د خُدائ پاک د فضل نه محروم پاتې
شوئ. ۵ خو مونږ څوک چې په روحُ القُدس کښې ژوند کوُو، په ايمان سره د
هغه صداقت، کوم چې خُدائ پاک راسره وعده کړې ده، ډېر په اُميد سره انتظار
کوُو. ۶ ځکه کۀ زمونږ ايمان په عيسىٰ مسيح وی، نو بيا سنت او ناسنت څۀ
غټه خبره نۀ ده. خو کوم کار چې ضروری دے، هغه صرف ايمان دے چې ځان
په مينې سره ښکاره کړی ۷ تاسو خو ښۀ منډه وهله، نو بيا تاسو چا د حق د
تابعدارۍ نه منع کړئ؟ ۸ دا رنګ لمسون د خُدائ پاک د طرف نه نۀ دے، چا



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې تاسو آزادئ ته رابللی یئ. ﴿۹﴾ نو دا یاد ساتئ چې لږه خمبیره ټول اخښلی اوړۀ خمبیره کوی. ﴿۱۰﴾ زما په تاسو په مالِک کښې دا پوره باور دے چې تاسو به بل غلط تعلیم نۀ منئ. خو خُدائ پاک به داسې کس ته سزا ورکړی، څوک چې تاسو ګمراه کوی، کۀ هغه هر څوک هم وی. ﴿۱۱﴾ خو زما وروڼو او خوېندو، ترڅو چې زما خبره ده کۀ زۀ تر اوسه د سنتېدلو پېغام ورکوم چې داسې کول ضروری دی، نو بیا زۀ ولې تر اوسه زورَولے کېږم؟ کۀ ما د مسیح د سولئ په وسیله د خلاصون تعلیم نۀ وے ورکړے، نو څوک به هم خفه شوی نۀ وو. ﴿۱۲﴾ زۀ غواړم چې هغه څوک چې تاسو د سنتولو په تعلیم پرېشانه کوی هغوئ دې نۀ یواځې دا چې خپل ځانونه سنت کړی بلکې خصیان دې هم کړی. ﴿۱۳﴾ زما وروڼو او خوېندو، تاسو د آزادئ دپاره رابللی شوی یئ. خو دا آزادی د ګناه د فطرت دپاره مۀ استعمالوئ، بلکې د زړۀ نه د یو بل خِدمت کوئ. ﴿۱۴﴾ ځکه چې د ټول شریعت خلاصه صرف په دې یو حُکم کښې ده چې، "تاسو د خپل ګاونډی سره د خپل ځان په شان مینه ساتئ." ﴿۱۵﴾ خو کۀ چرې تاسو د یو بل وینې څښئ او جنګونه کوئ نو خبردار شئ چې په داسې کولو به یو بل برباد کړئ.

## روحانی او انسانی فطرت

﴿۱۶﴾ نو زۀ دا وایم کۀ تاسو خپل ژوند د روحُ القُدس په مطابق تېروئ نو بیا به د ګناه فطرت په خپله پرېږدئ. ﴿۱۷﴾ ځکه څۀ چې زمونږ د ګناه فطرت غواړی هغه د خُدائ پاک د روح خلاف دے، او څۀ چې د خُدائ پاک روح غواړی هغه د ګناه د فطرت خلاف دے، نو دا په خپلو کښې د یو بل خلاف دی، نو په دې وجه تاسو چې څۀ کول غواړئ هغه نۀ شئ کولے. ﴿۱۸﴾ خو کۀ چرې تاسو د خُدائ پاک د روح په هدایت روان یئ نو تاسو د شریعت پابند نۀ یئ. ﴿۱۹﴾ نو د ګناه د فطرت کارونه خو ښکاره دی، یعنې زنا، ناپاکی، عیاشی، ﴿۲۰﴾ بُت پرستی، جادوګری، دشمنی، جګړې، کینه، بار بار غصه، خود غرضی، فتنې، پارټی بازی، ﴿۲۱﴾ بُغض، نشې، مستی او د دې په شان نور ګناهونه. زۀ تاسو ته بیا خبردارے درکوم لکه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځنګه چې ما تاسو ته وړاندې درکړے وو، هغه څوک چې داسې کارونه کوی نو
هغوئ به د خُدائ پاک د بادشاهئ وارثان نۀ شی. ۲۲ خو د خُدائ پاک د روح
مېوه مينه، خوشحالی، سکون، صبر، مهربانی، ښېګړه، وفاداری، ۲۳ نرمی او
پرهيزګاری ده. يو شريعت هم د داسې کارونو خلاف نۀ دے. ۲۴ او څوک چې د
عيسیٰ مسيح دی نو هغوئ د خپل د ګناه د فطرت ټول شوقونه او خواهشونه په
سولئ کړی دی. ۲۵ نو چې مونږ د خُدائ پاک د روح په مطابق اوسيږو، نو بيا
مونږ ته د خُدائ پاک د روح د هدايت په مطابق ژوند تېرول په کار دی. ۲۶ نو
مونږ دې بې‌ځايه فخر نۀ کوُو، او نۀ دې يو بل راپاروو او نۀ دې د يو بل نه سوزو.

## د يو بل بوج اوچتوئ

۶ ۱ اے وروڼو او خوېندو، کۀ چرې يو کس په څۀ نافرمانئ کښې ګېر شی
نو تاسو چې د روحُ القُدس په هدايت روان يئ هغه په نرمئ سره سمې لارې ته
واپس راواړوئ. او د خپل ځان خيال ساتئ هسې نه چې تاسو هم په آزمېښت
کښې پرېوځئ. ۲ تاسو په خپلو کښې د يو بل بوج اوچتوئ نو په دې طريقه به
تاسو د مسيح شريعت پوره کړئ. ۳ کۀ څوک خپل ځان ډېر غټ ګڼی او په
حقيقت کښې څۀ هم نۀ وی، نو هغوئ خپل ځان له دوکه ورکوی. ۴ هر څوک
دې خپل عمل په خپله وآزمائی، نو بيا دې هغه په خپل ځان فخر کوی، نو دغه
شان به ورته د بل چا سره د ځان برابرولو ضرورت نۀ وی. ۵ ځکه چې هر
څوک به خپل بوج په خپله اوچتوی. ۶ د خُدائ پاک د کلام تعليم چې څوک
زده کوی هغوئ دې خپل اُستاذ سره مدد کوی او په ټولو ښۀ څيزونو کښې دې
هغه د ځان سره شريکوی. ۷ خپل ځان له دوکه مۀ ورکوئ، څوک هم د خُدائ
پاک پورې ټوقې نۀ شی کولے، ځکه څوک چې څۀ کَری هغه به ريبی. ۸ څوک
چې د خپلې ګناه د فطرت په مطابق څۀ وکَری نو هغوئ به د تباه کېدو فصل
وريبی، او څوک چې د روحُ القُدس د خوشحالولو په مطابق ژوند وکړی نو هغوئ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به د روحُ القُدس نه د ابدی ژوند فصل وریبی. ۹ نو مونږ دې په ښهٔ کار کولو
کښې همت نهٔ بائیلو، ځکه کهٔ مونږ همت ونهٔ بائیلو نو مونږ به په خپل صحیح
وخت فصل وریبو. ۱۰ ترڅو چې مونږ سره موقع په لاس کښې ده، نو راځئ
چې د هر چا سره ښېګړه وکړُو، او خاص د هغوئ سره چې د ایماندارانو په
خاندان کښې حسابیږی.

## آخری هدايات او برکتونه

۱۱ وګورئ، زهٔ تاسو ته په خپل لاس سره څومره په غټو غټو ټکو لیکم. ۱۲
کوم خلق چې تاسو په دې سنتېدو مجبوروی، هغوئ د نورو خلقو په وړاندې
صرف خپل عزت غواړی. او هغوئ دا نهٔ غواړی چې د هغه تعلیم په وجه
وزورَولے شی په کوم کښې چې دا وائی چې د مسیح سولئ صرف د خلاصون
وسیله ده. ۱۳ ځکه هغه څوک چې سنت شوی دی په خپله په شریعت عمل نهٔ
کوی، خو هغوئ ستاسو سنتېدل صرف د دې دپاره غواړی چې هغوئ ستاسو په
دې عمل فخر وکړی. ۱۴ خو خُدائ دې نهٔ کړی چې زهٔ بې زمونږ د مالِک عیسیٰ
مسیح د سولئ نه په بل څهٔ فخر وکړم، د چا د صلیب په وجه دُنیا زما دپاره په
سولئ شوه او زهٔ د دُنیا دپاره په سولئ شوم. ۱۵ ځکه چې د سنتېدو او ناسنتېدو
څهٔ اهمیت نشته، بلکې اهم کار نوے خلقت دے. ۱۶ د خُدائ پاک سلامتی او
رحم دې په هغه چا وی څوک چې د دې قانون په مطابق ژوند تېروی، او هم دې
د خُدائ پاک په خپلو ایماندارانو خلقو وی. ۱۷ د دې نه پس څوک مهٔ پرېږدئ
چې ما ته په دې خبرو تکلیف راکړی ځکه چې ما په خپل بدن د عیسیٰ د داغونو
نښې لګولې دی. ۱۸ زما ورونړو او خویندو، زمونږ د مالِک عیسیٰ مسیح فضل
دې تاسو ټولو سره مل وی، آمین.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
pashtobibles.org © یوسفزی ۲۰۱۹
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.